# د ټي ټي پي خوارج له پرله پسې ناکامیو وروسته نفاق او درواغو ته اړ شو

ایف آر پېښور؛ شکست خورده خوارج په خپلو درواغجنو تبلیغاتو کې د ایم آیی د سورس په توګه د حمیدي مشیني د اوسېدونکی عاصم په نوم د یوه ځوان د نیول کېدو او وروسته خوشې کېدو ادعاوې کوي، چې په اړه یې له ټولنیزو رسنیو څخه اخیستل شوی تصویر کارول کېږي، چې کوم څه قسمه حقیقت نه لري۔





ویډیویي پیغام

**دغه هلک عاصم په خپله خوښه یو ویډیویي پیغام خپور کړی، چې د خوارج د دروغو خبره یې رد کړې او د پاکستان په پوځ کې د شاملیدو هیله یې څرګنده کړې ده۔**

**په حقیقت کې د ځایي خلکو پر وخت نشاندهیی سره امنیتي ځواکونو د ټي ټي پي سره تړلې عبدالرحیم ډلې په ضد څو کامیاب عملیات کړي دي چې په ترڅ کې یې خوارجو ته درانه زیانونه اوښتي دي۔**

**د دې ناکامیو نه پس د تحریک طالبان پاکستان عبدالرحیم ډله ناکامه هڅه کوي چې د سیمې خلک د امنیتي ادارو له ملاتړ څخه منع کړي او د دروغو پروپاګند په واسطه ویره خپره کړي۔**

خوارج او د هغوی تکفیري اجنډا د خلکو په وړاندې په بده توګه افشا شوې ده او د امنیتي ادارو تر څنګ ولاړ دي او د دوی دروغ او منافقت ردوي۔